# غزل

کاروان

## غزل

ترږي ټول درپسې مړه ښکاري جانانه
په مرۍ کې دې اوبه ښکاري جانانه

په ټول ښار کې ایله ستا په سترګو پایو
پکي غر پکي غرڅه ښکاري جانانه

ستا دښمنو چې په تا شغول غشي
اوس نو دوی غوښه چاړه ښکاري جانانه

زه درګورمه خو ستا په ټنده ګونځې
په خندا وایه چې نه ښکاري جانانه

د دعا نه ډکه لپه په ما وڅښنه
په جامونو کې رانجه ښکاري جانانه

ته رایاد شې چې د لمر په خوا روان وي
په آسمان کې سپین مارغه ښکاري جانانه

ستاله غېږې نه کاروان وتلی نشي
لاس او پښې يې نشته زړه ښکاري جانانه

## غزل

اوښکه ته يې مینه ته يې کیف د موسېدو ته يې
ناڅاپه شېبه د سره ګلاب د غوړېدو ته يې

ډک د میني جام ته يې په سرو سترګو سلام ته يې
شرنګ په مدهوشی کې د تش جام د ماتېدو ته يې

ته مي لېونی خندا يې ته مي لېونی ژړا
اخ جانانه زېری د دعا د قبلېدو ته يې

توره ته يې غشی ته لقمان او جالیونس دی
زخم د ځیګر ته يې مرهم د رغېدو ته يې

ترږی زه یم لپه و اسمان ته د غوښتنې زه

راشه په بربښنا کې ترنم د ورېدو ته يې

دلته چې راغلي سوي لوي تښتېدلي دي
دې لېوني زړه کې حوصيله د اوسېدو ته يې

دغلته يو ستوری دی او هاغلته بل ستوری دی
منځ ته يې راځه د فاصلو د ورکېدو ته يې

**غزل**

سترګې دې پرېږده چې شيندي ګلونه
ډېر مې ياديږي دا ژوندي ګلونه

ستا د کړو بڼو په شپول کښې را ګير
لکه اغزيو کښې قيدي ګلونه

زه د جانان د در په کاڼو مين
پرېږدئ چې ښکل کړم په تندي ګلونه

په تورو څڼو کښې يې ډېر لګوه
شته مې د زړه په مات کودي ګلونه

کاروانه زه ورته حيران پاتې يم
چې دا د چا د غزل دي ګلونه

**مورې**

**مورې مورې تږی يم په لپه کې اوبه راکړه**
**زړه دې رانه وړی دی بې زړه يمه لږ زړه راکړه**

**بيا درته ماشوم شومه نکريزې مې په لاس کېږده**
**خوله زما ترخه ده هله يو موټی خواږه راکړه**

**ما د ژوند په لوبه کې ګرېوان تر لمن وشلاوه**
**تار په ستن کې واچوه تنی د ګرېوانه راکړه**

**غره ته يم راغلی چې د غم په لوی زړه وژاړم**
**ډنډ مې د زړه ډب دی د رڼو اوښکو وياله راکړه**

سرته مې زنګون کېږده ویښتو کې مې وهه ګوتې
خوب نه راځي، خوب راوله، خوب کې الوته راکړه

اوس به زه د شپې پر خطرناکو لارو نه درومم
اوس به زه د ورځې په کاواکو لارو نه درومم

اوس خو موري ستا د دوعاګانو زغرې نه لرم
اوس خو زه شکست یم د بري سندرې نه لرم

اوس هغه ستا زړه جوړونکي مسکا نه وینم
رنګ یمه زه رنګ یمه په سترګو چې تا نه وینم

ته لاړې او غم دې په خدای ډېره بربادي وکړه
ته راشه په زړه کې مې له سره آبادي وکړه

توري توتکی راشي خو ستا خبرې نه راوړي
ژاړي راته سپینې د خندا خبرې نه راوړي

چا ویل چې زړه مې په پنجو کې د عقاب کېږده
اوس نو تو رپټکي کې مې د صبر سور ګلاب کېږده

ته خو په ارام یې خو زه ډېر ډېر نا ارامه یم
وامې خله پرېوتی لکه تور ببرې له بامه یم

صبر د پاک ربه راته وغواړه چې ژوند وکړم
بیا د خپل زړګي د مات کودي سره پیوند وکړم

ګوندې وي چې تا هم په وګمو کې راژوندی کړمه
یا لکه بلبل دې په نغمو کې راژوندی کړمه

صبر کوه ستا د قبر درګې به رالویي شي
زه به یې قلم کړمه نغمې به ترې راتویي شي

بیا به زه ماشوم شم په زانګو کې به جوتې وهم
ستا د الله هو په ازانګو کې به جوتې وهم

ته به راته تولي د رڼا خبرې بيا وکړې
زما په يتيم سر به لکه سيوری د هما وکړې

ستا د دوعاګانو پر زنګون به مې سر ايښی وي
تېغ به مې د صبر د بېلتون پر ځيګر ايښی وي

زه به ستا د خيال او د رويا تر څنګه ناست يمه
داسې به خوشال يم لکه ستا تر څنګه ناست يمه

بيا به زه له سره له ژوندون سره ځواني وکړم
بيا به د ګلابو د نرګسو باغواني وکړم

## غزل

د زړګي پر تخت مې کښېږنه ښکليه راشه
زه سلام درته کوم ته مې بادشاه شه

د ښو اغزو مې پرخه درته راوړه
خادمانو ته دې ګويه په خندا شه

په پردو چړو مې زړه توټی توټی دی
مينې راشه پر زخمونو يې دوا شه

د سبا باده غوټۍ په زړه زخمي ده
پټ په غوږ کې ورته ووايه چې راشه

خدايه کبر کړې زوال د يزيديانو
وينه وچه په دوهمه کربلا شه

د يتيم ژړا خو عرشه پورې لاړه
د وطن مورې لاس جګ کړه په دوعا شه

مجنونان به تر څو ګرځي سرګردانه
آزادۍ له خندا شنه شه شاليلا شه

د سپرلو قاصده وشينده ګلونه
د فردوس منظرې جوړه په صحرا شه

د وطن چمن مې لو لېه لمبه شو
خدایه ورکه د باروتو اژدها شه

اوږدې شپې مې په ژوندون باندې خورېږي
د سبا ګرېوان کې لمره په ځلا شه

ارمانونه مې په خاورو کې پراته دي
په مزار یې یاره راشه مسیحا شه

یه په زړه ظالمه عشقه خبر نه یې
مهجور عشق وو زاره چاودی شو پخلا شه

په وطن چې د وحدت نارې خورې شي
دا بلا د ځان ځانۍ تالا والا شه

چې ښکلا ته دې جهان ګوته په خوله شي
بیا سینګار وکړه او ناوې د ایشیا شه

بیا کاروان مې که د ژوند په مرګي لوټ شي
خیر دی یو ځل خو په ژوند یاره زما شه

غزل

نه چې ښاروان یې راته وخوري پر کاروان ویرېږم
خدایه ایمان مې سلامت کړې پر ایمان ویرېږم

غره راته وې د راز په ژبه چې سور اور به واخلم
نن چې مننوکی د شیطان شو له انسان ویرېږم

نه چې د شاتو د مچۍ په شان ترې توري ولاړ شي
قربان قربان یې شم په خدای ج چې په قران ویرېږم

دا جادوګر ماران په ذهن کې هم ځالې کوي
هم له لستوڼې خطر شته هم له ګرېوان ویرېږم

د مادیت ونو شین باغ د ژوندانه نیولی
په زغرده وایم د ډېرو له باران ویرېږم

په مخ کې پروت راته زخمي راته رنځور د مودو
د طبیب سترګې زهرجنې له درمان ویرېږم

**پردي لاسونه راته ډک له ګړنګونو ښکاري**
**خبره داده چي پر خپل افغانستان ويرېږم**

ترې ټول درپسي مړه ښکاري جانانه
په مرۍ کي دې اوبه ښکاري جانانه

په ټول ښار کي ايله ستا په سترګو پايو
پکي غر پکي غرڅه ښکاري جانانه

ستا دښمنو چي په تا شغول غشي
اوس نو دوى غوښه چاړه ښکاري جانانه

زه درګورمه خو ستا په ټنده ګونځي
په خندا وايه چي نه ښکاري جانانه

د دعا نه ډکه لپه په ما وځښه
په جامونو کي رانجه ښکاري جانانه

ته راياد شي چي د لمر په خوا روان وي
په آسمان کي سپين مارغه ښکاري جانانه

ستاله غيږي نه کاروان وتلى نشي
لاس او پښي يې نشته زړه ښکاري جانانه

*posted by پيرمحمد کاروان @ 10:05 AM* 2 comments

**غزل**

اوښکه ته يې مينه ته يې کيف د موسېدو ته يې
ناڅاپه شېبه د سره ګلاب د غوړېدو ته يې

ډک د ميني جام ته يې په سرو سترګو سلام ته يې
شرنګ په مدهوشى کي د تش جام د ماتېدو ته يې

ته مي لېونى خندا يې ته مي لېونى ژړا
اخ جانانه زېرى د دعا د قبلېدو ته يې

توره ته يي غشی ته لقمان او جاليونس دی
زخم د ځيګر ته يي مرهم د رغېدو ته يي

تری زه يم لپه و اسمان ته د غوښتني زه
راشه په برېښنا کي ترنم د ورېدو ته يي

دلته چي راغلي سوي لوي تښتېدلي دي
دې لېوني زړه کي حوصيله د اوسېدو ته يي

دغلته يو ستوری دی او هاغلته بل ستوری دی
منځ ته يي راځه د فاصلو د ورکېدو ته يي

*posted by پيرمحمد کاروان @ 10:04 AM* 0 comments

## غزل

سترګي دي پرېږده چي شيندي ګلونه
ډېر مي ياديږي دا ژوندي ګلونه

ستا د کړو بڼو په شپول کښي را ګير
لکه اغزيو کښي قيدي ګلونه

زه د جانان د در په کانو مين
پرېږدئ چي شکل کړم په تندي ګلونه

په تورو څڼو کښي يي ډېر لګوه
شته مي د زړه په مات کودي ګلونه

کاروانه زه ورته حيران پاتي يم
چي دا د چا د غزل دي ګلونه

۱۳۶۹/۳/۲۵

*posted by پيرمحمد کاروان @ 10:03 AM* 0 comments

## پښتو

ډکه د جمال او د جلال غرنی ژبه ده
وايي وره پښتو د مستانه موسيقی ژبه ده

ډول سره چې غبرګه شي ګډا ګډا شي نو
چوپو ګړنګونو کې يو شور شي او غوغا شي نو
والوزي يو سېل شي د مرغيو په هوا شي نو
ځنې د نښترو ورته ګډې په شغا شي نو
درد لري د مينې د شپونکي د شپېلۍ ژبه ده
وايې وره پښتو د مستانه موسيقۍ ژبه ده

خرپ د سپينې تورې چې په برم او په پرتم کې شي
حسن په درخو کې شي سرشاره په ادم کې شي
ناڅاپه نغمه شي د رباب په زيروبم کې شي
چيغه شي ټپه په خوبولي شومه دم کې شي
ستوري ورته غوږ دي د آسمان د سپوږمۍ ژبه ده
وايې وره پښتو د مستانه موسيقۍ ژبه ده

مسته په ځپو ځپو او مسته له سېلابه ده
ښکاري راوتلې د سندرو له دريابه ده
ته وا بلبلانو را ايستلې له کتابه ده
واه په تغزل کې ښايستوکې تر ګلابه ده
جوړه ترې لنډۍ شي د درنې ملالۍ ژبه ده
وايې وره پښتو د مستانه موسيقۍ ژبه ده

سر باندې يې لمر او سپوږمۍ کښېني د غره څوکه شي
کله هم د غرونو د باغي زرکانو کوکه شي
ګوري چې سپېره غليم تېره د تورې څوکه شي
زلفې د معشوق انځوروي د قلم نوکه شي
جار د شرنګېدلې دريابي شاعرۍ ژبه ده
وايې وره پښتو د مستانه موسيقۍ ژبه ده

هر څو که د غرونو د اوبو غوندې بې رنګه ده
پښې يې پر اغزو ايښې دي سرې وينې ګلرنګه ده
پاس د ګل منار ته ور ختلې دنګه دنګه ده
ډېره خوږ اروا ده ته وا پېغله غنمرنګه ده
جار يې شم کاروانه د خوږې ښاپېرۍ ژبه ده
وايې وره پښتو د مستانه موسيقۍ ژبه ده

کابل خيرخانه مېنه
2005-4-28

*posted by پيرمحمد کاروان @ 10:02 AM*   0 comments

## ربابي ملنګه راشه

تبرزين په اوږه کيږده
او يو پړک له لمره راوړه
بې پېلوځو ته د ستورو
د سپوږمۍ خبره راوړه
له ترخو مو زړونه ډک دي
بس خوږه سندره راوړه

ترى تم يې را پيدا شه
ربابي ملنګه راشه

د غم توري توري لړې
راخورې ځپې ځپې دي
سپلۍ ګرځي په غبار کې
د غاټول پټې تپې دي
سپيني ورځې رانه ورکې
رانه تاوې توري شپې دي

هله پړک وکړه رڼا شه
ربابي ملنګه راشه

سرې په وينو جنازې مو
په بروځو وې تړلې
د ځېرى کټ کې مو يوړې
د نښتر څانګو وهلې
مودې کيږي چې نغمې مو
وې کړلې او کړلې

د نغمو مسته دنيا شه
ربابي ملنګه راشه

بيا د مستو سرودونو
د غزل کتاب دراخله
دا غوټۍ د زړونو وا کړه
دا ګلاب ګلاب دراخله
منکرانو ته ټک ورکړه
چندنې رباب دراخله

د سندرو اژدها شه

ربابي ملنګه راشه

جينکيو مو منلی
درته نذر د لونګو
دا ګېډۍ زلفي يي ګوره
لکه تور لوګی دبنګو
پاچهی دې صدقه شي
ستا له سرو سترګو ملنګو

په اتڼ او په ګډا شه
ربابي ملنګه راشه

ډېر بدرنګ وختونه ګرځي
نه چې مونږ درنه بدرنګ کړي
خپل رنګونه رانه اخلي
په پردي رنګ به مو رنګ کړي
غلچکي دي رانه پټ به
د ليلا د بنګړو شرنګ کړي

د غرور ډکه بنکلا کړه
ربابي ملنګه راوړه

وچکالي د نغموغله
باراني ترنم راوړه
د رحمت ساقي درجار شم
ډکه لپه له خم راوړه
راته شونډو کې موسکی شه
په لېمو تبسم راوړه

کټ کټ شين شه په خندا شه
ربابي ملنګه راشه

پولادي موږکان ګرځي
ځځيرلي يې چمبې دي
وژل شوی ددول ږغ دی
دشپنو شپيلۍ کنې دي
روغ مو زړونه پاتې نه دي
ماتې ګوډې سريندې دي

ددې ټولو مسيحا شه

ربابي ملنګه راشه

رام دنګو دنګو غرونو
دا مغرور مغرور ديوان کړه
د نغمو د ښاپيريو
يو کاروان پکي روان کړه
څني څنډ وهه يا هو کړه
په مستی څيري ګريوان کړه

ته مو يار ته مو اشنا شه
ربابي ملنګه راشه

پيښور -16-1-2001

*posted by پيرمحمد کاروان @ [10:01 AM]* [0 comments]

**Delete**

جدول راوړومه A په تليفون کي چي د
نو ستا نامه په کي اول راوځي
سترګو ته دوه څاڅکي د اوښکو راځي
له زړه مي سل چيني د ګل راوځي
د تليفون تنی مي کيکاږله
زما اواز تر تا در ورسيدو
تا يي پر ستوني باندي پښه کيښوده
زما په زړه کي دي تبره ماته ښيښه کيښوده
ما درته څومره سلامونه وکړل
خو تا يوځلي هم عليک ونه وې
په مرحبا مرحبا ستړی شومه
جانانه تا راته لبيک و نه وې
په تليفون کي مي چارج ختم کرېدېت تمام شو
لکه شاهين پنجو کي وړی کوتر
سور مي د زړه په وينو سپين سلام شو
د کمپيوترتر څنګه کيناستمه
وليدې ONELINE کي مي MSN په
نو مي يو سور ګلاب درولیږلو
ما وې چي ته مي ګوندې هم په سره ګلاب وولي
خو تا د سره ګلاب د پاسه چليپا را ښکله
تبره چاړه وه پر مرئ چي تا زما را ښکله
ما وې په وينو سور يو بل ګلاب در ولیږمه

دي ومه BLOCK ښکاريدي OFFLINE خو ته
پاڼه مي راواړوله EMAIL د
ستا راليږلي ايميلمونه له الف نه تر يا
ما په يوه سترګي نظر ټول و کتل
په کي يو څاڅکی د شبنم نه وو خوشبو يي نه وه
جوړ له کاغذ مي دا غاټول و کتل
ټول د درواغو له داغونو ډک وو
له پاڼي پاڼي يي ريا وريده
نه تري وږمي د صداقت راوتي
نه تري نه يو ټکی رڼا وريده
لکه پيريان چي د غوسي واخلي ماشوم په غيږ کي
ګوډی نانځکي او د لوبو شيان
په ديوالونو وولي
داسي مي ستا د ايميلونو کاغذي ګلونه
له ډيره قهره پاڼي پاڼي ايسته و غورځول
کړ DELETE کي مي ستا نوم MSN په
له تليفون مي ستا نومره و ايسته
اوس نو يو دوه کارونه پاتي راته
بری به هغه وخت نصيب وي ځما
که مي له خيال نه ستا څيره و ايسته
که مي په زړه کي ستا راټول يادونه
د خواږه صبر په اوبو و مينځل
دا څه موده په رياضت يمه بوخت
چي دي له خيال نه او له زړه نه په يو ځای وباسم
بيا به نو زر توبي توبي له ميني
په پاک دربار کي د لوی خدای وباسم
خو نتيجه صفر ده
نه کيږي نه کيږي والله نه کيږي
په زړه مي ووري او په خيال کي مي چکری وهي
اخر په دې مي امنا کړي ده
په کومه ورځ مي چي په ګورکي کيږدي
د ګور چينجي به راشي
کاندي زما په زړه کي DELETE ستا ټول يادونه به

*posted by پيرمحمد کاروان @ 9:59 AM* 0 comments

## ته ازانګه د اذان

په غربي کلي کي تر ټولو ښکلي
نره سوچه شرقي ترينې نجلۍ
په بل نامه مي زړه اوبه نه څښلي

مینه دي بولمه له میني نجلۍ
***
کوم لاهوتي ستار په غېږ کې لري؟
او که خبري دې خوږې دي ولې؟
جنتي شات به دي ورګډ خو نه وي؟
اخ دا سندرې دې خوږې دي ولې؟
***
هغه د شنو سترګو بازار مې لیده
چې په کې ته لکه حیا ګرځېدې
د امریکي دکلیساوو تر څنګ
لکه مروه لکه صفا ګرځېدې
***
ما ستا د خیال ورغوي ډېر کتلي
یو لوی ارمان دې پټ په زړه کې وینم
زما پردېسي د وطن شهزادګۍ
افغانستان دې پټ په زړه کې وینم
***
شور به کوي د کلیسا زنګونه
خو ته به څارې ازانګه د اذان
را ویښوي به خوبولي زړونه
ته راته ښکارې ازانګه د اذان
***
د پټ پوړنۍ درنه پاتي نه شي
دا د ګوربت وزر پر سر ګرځوه
د الاهو الاهو ذکر کوه
لاس کې زنځیر د پیغمبر ګرځوه

*posted by پیرمحمد کاروان @* [*9:58 AM*]   [0 comments]

**ماشوم جنت**

کاشکې زه ماشوم وای او ته هم ګلي ماشومه وای
ناز دې را معلوم وای او غوسه مې در معلومه وای
زه کله سخي وای کله شوم تر اندازې نه زیات
ته کله سخي وای کله سخته ډېره شومه وای
ا خوا مې کتلي وای او دېخوا مې کتلي وای
کور کې مې له ښتي نه په غلا غنم ایستلي وای
منډه مې اخیستي تر دکان مې تېښتولي وای
ځان ته پټاسې تاته بنګړي مې را نیولي وای
ستا نرې مړوند ته مې په ناز در اچولي وای

درې څلور دې مات واى پنځه شپږ دې شرنګولې واى
لاس مې واى زخمي درته په چيغو دې ژړلې واى
زه په ټوپو سر واى او په کټ کټ مې خندلې واى
تا راسره خلى پرې واى مانه مروره واى
ګوتې دې په غوږ کې اېښې ما کړې خبره واى
ته راته ناڅاپه د پيشو غوندې ببره واى
ښه تېره نوکاره دې پر مخ را برابره واى
دارې دارې وينې مې له مخ را بهيدلې واى
زه په سلګو سر واى او ته ماته ژړيدلې واى
وينې دې زما،د سپين ټيکرې په لمن وچې واى
زر دې واى پخلا رانه اخيستې دې دوه مچې واى
مخ باندې زما چې څو تنکي زخمونه پاتې واى
ستا پر سپين ټيکري باندې هم سره داغونه پاتې واى
ما چې پټاسې د څنګ له جېب نه را ايستلې واى
ستا د خولې اوبه چې په وښکو را بهيدلې واى
زر مې پټاسه په سر د ژبې را ايستلې واى
ستا خوله کې مې اېښې واى په خوند خوند دې ځبېښلې واى
بله ورځ چې ته هم په غلا کورته ننوتې واى
اخوا دې لاسونه غورځولي او هم لتې واى
چرګې دې خورې واى او ويشتلې دې په ګټې واى
څو دانې هګۍ دې له سينو نه ترې را پټې واى
لار کې څو دانې واى درنه ماتې څو در پاتې واى
ژاولې دې اخيستې واى غابښونو کې دې ماتې واى
خوله کې دې را تاوې واى او خرچ دې ترې ايستلى واى
نه دې راکولاى ماته زه دې ځورولى واى
ما درته زارۍ کولاى تا سر خوځولى واى
خوله دې رانږدې واى زما غوښتنه دې منلې واى
ژاولې واى درپاتې او ستا ژبه مې چيچلې واى
ته چې په ژړا ژړا تر کوره تښتيدلې واى
مورته دې زما شيطانۍ يو په يو ښودلې واى
مور دې د زمرۍ غوندې له کوره راوتلې واى
ستا د مور څپېړې مې پر مخ باندې خوړلې واى
بيا نو مرور واى يو تر بله ږغيدلى نا
تا به شونډې بوڅې واى او ما به درکتلى نا
بله ورځ چې ستا مېږې پردي فصل کې ګډې واى
تا ورته ژړلى او ستا سترګې رډې بډې واى
تا د شينکي فصل غوندې شنې جامې اغوستې واى
فصل ته ورتلاى نه شواى چې مېږې دې راوستې واى
ما وې مبارک دې شه دا شنې جامې ښايسته ښکارې
تا وې جنتي شې خو له ما ولې خپه ښکارې؟

ما درته ويلاى چې په خوب کې مې ليدې ډېره
زه ژړېدم تاته او ته ماته ژړېدې ډېره
تاوې په خندا چې هغه مېږې راته راوله
زه يې کورته بيايمه او ژر يې ماته راوله
زه په منډه ورغلاى دوه درې بارې مې ورانې واى
مېږې مې په منډه له شنه فصل راروانې واى
يوه غونچه غاټول مې هم په منډه شوکولې واى
ستا دشنه کميس په لونګين کې مې ټومبلې واى
تا چې خپلې مېږې په خندا کورته بېولې واى
ډکې يې غولانځې واى مورجانې دې لوشلې واى
نن يې چې شيدې له نورو ورځو ځنې ډېرې واى
ستا له ماشوم زړه نه مرورې شېبې هېرې واى
مورته دې زما په صفتونو مرېدلې نا
کاشکې دا جنت چې تر قيامته نړېدلې نا

کابل خيرخانه مېنه-26-2-1384

*posted by پيرمحمد کاروان @* 9:56 AM   0 comments

## غزل

نه چې ښاروان يې راته وخورې پر کاروان ويرېږم
خدايه ايمان مې سلامت کړې پر ايمان ويرېږم

غره راته وې د راز په ژبه چې سور اور به واخلم
نن چې منږوکی د شيطان شو له انسان ويرېږم

نه چې د شاتو د مچۍ په شان ترې توري ولاړ شي
قربان قربان يې شم په خداى ج چې په قران ويرېږم

دا جادوګر ماران په ذهن کې هم ځالې کوي
هم له لستوني خطر شته هم له ګرېوان ويرېږم

د ماديت ونو شين باغ د ژوندانه نيولی
په زغرده وايم د ډبرو له باران ويرېږم

په مخ کې پروت راته زخمي راته رنځور د مودو
د طبيب سترګې زهرجنې له درمان ويرېږم

پردي لاسونه راته ډک له ګړنګونو ښکاري
خبره داده چي پر خپل افغانستان ويربږم

*posted by پيرمحمد کاروان* @ *9:55 AM*   0 comments

## غزل

د زړګي پر تخت مي کښېنه ښکليه راشه
زه سلام درته کوم ته مي بادشاه شه

د بنو اغزو مي پرخه درته راوړه
خادمانو ته دي ګويه په خندا شه

په پردو چړو مي زړه ټوټی ټوټی دی
ميني راشه پر زخمونو يي دوا شه

د سبا باده غوټی په زړه زخمي ده
پټ په غوږ کي ورته ووايه چي راشه

خدايه کبر کړي زوال د يزيديانو
وينه وچه په دوهمه کربلا شه

د يتيم ژړا خو عرشه پوري لاړه
د وطن موري لاس جګ کړه په دوعا شه

مجنونان به تر څو ګرځي سرګردانه
آزادی له خندا شنه شه شاليلا شه

د سپرلو قاصده وشينده ګلونه
د فردوس منظري جوړه په صحرا شه

د وطن چمن مي لو لپه لمبه شو
خدايه ورکه د باروتو اژدها شه

اوږدي شپي مي په ژوندون باندي خوريږي
د سبا ګريوان کي لمره په ځلا شه

ارمانونه مي په خاورو کي پراته دي
په مزار يي ياره راشه مسيحا شه

یه په زړه ظالمه عشقه خبر نه يې
مهجور عشق وو زاره چاودی شو پخلا شه

په وطن چي د وحدت ناري خورې شي
دا بلا د ځان ځانۍ تالا والا شه

چي بنکلا ته دې جهان ګوته په خوله شي
بيا سينګار وکړه او ناوې د ايشيا شه

بيا کاروان مي که د ژوند په مرګي لوټ شي
خير دی يو ځل خو په ژوند ياره زما شه

*posted by پيرمحمد کاروان @ 9:54 AM*   0 comments

## عزل

اوس به زه د شپي پر خطرناکو لارو نه درومم
اوس به زه د ورځي په کاواکو لارو نه درومم

اوس خو مورې ستا د دوعاګانو زغرې نه لرم
اوس خو زه شکست يم د بري سندرې نه لرم

اوس هغه ستا زړه جوړونکي مسکا نه وينم
رنګ يمه زه رنګ يمه په سترګو چي تا نه وينم

ته لاړې او غم دې په خدای ډېره بربادي وکړه
ته راشه په زړه کي مي له سره آبادي وکړه

تورې توتکی راشي خو ستا خبرې نه راوړي
ژاړي راته سپيني د خندا خبرې نه راوړي

چا ويل چي زړه مي په پنجو کي د عقاب کيږده
اوس نو تو رپېتکي کي مي د صبر سور ګلاب کيږده

ته خو په ارام يي خو زه ډېر ډېر نا ارامه يم
وامي خله پرېوتی لکه تور ببرې له بامه يم

صبر د پاک ربه راته وغواړه چي ژوند وکړم
بيا د خپل زړګي د مات کودي سره پيوند وکړم

ګوندې وي چې تا هم په وګمو کې راژوندی کړمه
یا لکه بلبل دې په نغمو کې راژوندی کړمه

صبر کوه ستا د قبر درګې به رالويې شي
زه به يې قلم کړمه نغمې به ترې راتويې شي

بیا به زه ماشوم شم په زانګو کې به جوتېږ وهم
ستا د الله هو په ازانګو کې به جوتېږ وهم

ته به راته ټولې د رڼا خبرې بیا وکړې
زما په یتیم سر به لکه سیوری د هما وکړې

ستا د دوعاګانو پر زنګون به مې سر ایښی وي
تېغ به مې د صبر د ببلتون پر ځيګر ایښی وي

زه به ستا د خیال او د رویا تر څنګه ناست یمه
داسې به خوشال یم لکه ستا تر څنګه ناست یمه

بیا به زه له سره له ژوندون سره ځواني وکړم
بیا به د ګلابو د نرګسو باغواني وکړم

*posted by پیرمحمد کاروان* @ *9:53 AM* 0 comments

**مورې**

مورې مورې تږی یم په لپه کې اوبه راکړه
زړه دې رانه وړی دی بې زړه یمه لږ زړه راکړه

بیا درته ماشوم شومه نکریزې مې په لاس کېږده
خوله زما ترخه ده هله یو موټی خواږه راکړه

ما د ژوند په لوبه کې ګرېوان تر لمن وشلاوه
تار په ستن کې واچوه تنۍ د ګرېوانه راکړه

غره ته یم راغلی چې د غم په لوی زړه وژاړم
ډنډ مې د زړه ډب دی د رڼو اوښکو ویاله راکړه

سرته مې زنګون کېږده ویښتو کې مې وهه ګوتې
خوب نه راځي، خوب راوله، خوب کې الوته راکړه

*posted by پیرمحمد کاروان @ 9:51 AM*   0 comments

## Thursday, March 09, 2006

## . . پسرلی د " نی کوڅه " کې

یوه ملنګ ته مې یو نوی رباب اخیستی و. کله چې یې وشرنګاوه نو ډېر خوند یې ورکړ او په خوښی یې وویل : دا خو لا نوی دی، چې زوړ شي غږ به یې لا خوږ او زړه راښکونکی شي . ما په حیرانی وپوښتل: ملنګ بابا دې کې څه حکمت دی چې د زاړه رباب غږ تر نوي خوږ وي؟ په موسکا یې وویل : د نوي رباب نغمې خامې وي او د زاړه رباب نغمه پخه وي .

زه چې کله د پسرلي صاحب شاعري لولم نو د ملنګ بابا خبره مې سترګو ته نیغه ودریږي . د پسرلي صاحب شاعري هغه زوړ او خوږ رباب دی چې خوږې او پخې نغمې ترې راڅڅیږي . د پسرلي صاحب د شاعری یو ډېر نادر کمال دا دی چې د ځوانۍ او مستۍ د شپېو له خوږې شاعرۍ نه یې د پاخه او زاړه عمر شاعري لا ډېره خوږه او ډېره ښکلې ده چې دا ډېره لویه شاعره پیرزوینه ده . کله چې دنی کوڅې ته راشئ د رنګارنګ نغمو جهان به وګورئ . د درد نغمې، د ښکلا نغمې، د خوند او رنګ نغمې، د ژوندد شور او غوغا نغمې.

کړې شپه مې په سر کې وې سودا د تورو سترګو

د زړه په غوږو اورمه غوغا د تورو سترګو

د نی کوڅه" درست غزلونه دي ، لکه د طاوس ښکې خپل، خپل رنګونه لري . خو یو رنګ چې په ټولو کې شریک دی " ، هغه د غزل رنګ دی . دلته که د وطن درد ژړیدلی هم د غزل په اوښکو لوند دی. او که د جانان غم دی هم په دې اوښکو لمبیدلی دی. د وطن حال په دې بیت کې راښیي:

کومې یوې راشې ته برکت برکت وو ایم

زما دانه خو وړاندې تر کرلو سوځیدلې وه

: د غزل مکیز او ادا په تصویري ژبه

ما وې زه به سیوری شم او پښو ته به یې ولوېږم

. ځوانه غرځنۍ وه له خپل سیوري رمیدلې وه

کله کله په یوه عصر یا په مختلفو دورونو کې یو څو لوی شاعران رامنځ ته شي، دې شاعرانو هر یوه خپل ځای نیولی وي، داسې ځای چې هغه بل یې نه شي ډکولی . که یو، نه وي نو په هغه برخه کې یوې کمی راځي . زما په نظر پښتو معاصر شعر او حتی تر کلاسیکه شعره پسرلی د یوه داسې خوند رنګ شاعر دی چې تر ډېره د ده خپل دی او په نورو . کې نه لیدل کیږي . داسې شاعرانو ته د یوې ژبې لوی شاعر وایي

شاعر په دې تارونو فرمايشي نغمي نه غږوي . هره نغمه د شاعر . د پسرلي د غزل په تار تار مختلفي نغمي غږول کيږي د خپلي خوښي څرګندويه ده . کله کله پر دې تارونو د ميني شرنګا راځي، کله درد کله حسرت او د ځوانۍ ارمان، کله هم د فکر او پيغام خبرې . کله کله د داسي نا آشنا فلسفي غزليزه خبره وکړي چي د ذوقمنو پر زړونو ولاړه تناکه له ډېره خونده ټق وچوي .

سوکه شي د نښتر په څوکه څړيکه د تناکو

مشکل به مي پخپله له مشکل څخه راباسي

. د شاعر په نازکه غزليزه ژبه پېښتني بې ډاره شډله ښکلا څومره مستانه راغلي ده

زما د زړه تر کوره د وهمونو په ځنګل کي

د حسن زمرۍ وګوره تنها تله او راتله

شاعر د تخيل په جادو له ورک جهان نه کيفيت راپيدا کوي . شاعر کله کله داسي انځورګرشي چي د آواز تصوير هم اخلي:

سکوت يې د شفق د جزيرو و ور مات کړی

د ناز د جهيل بطه په غوغا تله او راتله

د نی په کوڅه کي د رنګينو شمعو قافلي په رنګ رنګ جامو کي ځي راځي . پسرلي صاحب پر شمعو مختلف مضمونونه غزليز کړي دي . که يوازې د شمعو پر غزليزو بيتونوڅوک ليکنه وکړي، نو يو ښه کتاب پرې ليکلای شي . د شمعي د زه پر دې بيتونو تبصره نه . موم دسر هغه تار چي رڼا ورکوي، د مار له ژبې سره هم تشبيه شوی چي ډېره نادره تشبيه ده : کوم . د تبرک لپاره د نی د کوڅې يوه غزليزه شمع ستاسو په محفل کي بلوم

خير دی که مي ويلي شي تن واړه لکه شمع

ټيټه مي دې بل ته نه شي غاړه لکه شمع

ښکليو ته اظهار د ميني زړه اوبه کول دي

ګرانه ده ښکلا ته د عشق ژباړه لکه شمع

مينه کي چي وکړي څوک اودس په خپلو اوښکو

لمونځ يې ادا کيږي په ولاړه لکه شمع

يو محفل مې هم که نه کړ روڼ په واړه ژوند کې

ځانته روڼوم د قبر غاړه لکه شمع

اوس چې مې د خپلو جلوو خواکې ليدی نه شې

بيا مې د تيارو په زړه کې غواړه لکه شمع

زه دې سره لمبه شم که يې ستا خونه رڼا کړه

خول به کوږ په سر وړمه له وياړه لکه شمع

نورو به دې ښايي تماشې کړې د نازونو

زه او زړه مې اور اوبه شوو دواړه لکه شمع

د مينې درد به جا ځکلی نه وي ”

“ اخ څومره خوږ دی چې په زړه کې دې نازکه نری ليکه راشي

: د نی د کوڅې شاعر د مينې دا خوږ درد څکلی دی ځکه خويي په نيم سوي پتنګ زړه نه سوزي

زړه په نيم سوي پتنګ مه سوځوه

په خوند د اور سوي سندرې اوري

د ښکلا او مينې اوږده لانجه عارفانو، فلسفيانو، مفکرينو او شاعرانو ښېته زياته کړنګولې ده . خو داسې مطلق فورمول يې تر اوسه چا نه دی را ايستلی چې دوه جمع دوه مساوي څلور . خو بيا هم په دې ښکلې او خوږه موضوع کې په ځينو هغو نظرياتو د سرې زړه اوبه څښني چې يا يو عجيبه انداز ولري، يا زړه راښکوونکې وي . او يا شاعرانه تصويري تابلو :جوړه کړي . حميد بابا وايي

هنګامه د مينې ګرمه ده تر حسنه

د مجنون د در ګدا شه ليلا مه شه

: يا بل ځای رحمان باباداسي وايي

چي مجنون غونديې په مينه کي صادق شي

د ليلا په دروازه کي دربان نه شته

: په دي برخه کي پسرلی صاحب هم ښکلی، عجيبه او زړه راښکونکی انداز لري

حسن به ساه وبولو جند يې مينه

ښايست وي پټ خو کړي ښرګند يې مينه

که دوه عالمه خوبی ونښتيځئ

بوی به يې حسن وي او خوند يې مينه

دا شاعرانه تخيل هم عجب جادوګر دی، نوي نوي عجيبه جهانونه جوړوي . د شپي له شينکي آسمانه ستوري اوبو ته راکوز کړي . يو ستړی او تږی مسافر راولي او په لپه کي له اوبو سره ستوری پري وڅښي . بيا نو د مسافر د هرې ادا او د خبرو له ټکي نور وريږي . پسرلی صاحب د چا د ښکلي ټندي د حيا خولي بره آسمان د پرښتو تر عرشه خيژوي چي : د ليدونکي سترګي په کي څلور شي او د خولي په هر څاڅکي کي بيله بيله پرښته ويني

ما سکه ويل بر د پرښتو په عرش کي غونډه وه

ته وي د حيا خوله پرته د تا په ټنډه وه

د نی په کوڅه کي ډېر سياسي مسايل غزليز شوي دي . دا د شاعر کمال دی چي توره ډېره په ډېره ځليدونکي هنداره . پسرلی صاحب کله کله داسي څه وايي چي زه خو ورته سياسي تغزل وايم . واړوي او سپيره کونجکه په آبداري مرغلري

لمر بويه چي لوړې او ژورې را ته وښيي

ړوند خو نه يم ياره چي رهبره به امسا منم

عام ذهنيت ټيټ دی چي مني د سامري سخوندر

لاس چي د فرعون ږيري ته اچوي موسی منم

يو که راته ښه ووايي سل به مي مرتد ګني

هر سړی په بیله لاره ځي زه به د چا منم

یو د زړه خبره نه په دیر نه په جومات کي وه

څه به پسرلیه د راهب او د ملا منم

د ډېر متکبر سیاست تصور په دې بیت کې وګورئ.

رحم کمزوري د زړه، بولي د قدرت وړي

سل بیړۍ که ډوبې شي، یم له نازه نه ګوري

په دې بیت کې د سیاست د بوډۍ څیره وګورئ

ښه مې د قدرت خوړجنې ناوې ته چې وکتل

دا بوډۍ د ډېرو سرخوړلیو زلمو کونډه وه

کله کله مستانه انداز او شرنګیدلی وزن غزل ته عجیبه ښکلا وربخښي

راشه او په زړه مې پلونه نوي د یادونو کړه

رګ رګ مې د نۍ غوندې لبریز له فریادونو کړه

ستا له پاره سوی ستا له پاره په کې سوځو موږ

سور دوزخ مو ربه شین جنت د هیوادونو کړه

یا دا بیتونه

هرې یوې نګاه کې دې جلا مفهوم د حسن و

کار د کرشمو و خو وتلي نوم د حسن و

لږ مې مدرسې ته د جلوو چې سر وربیرته کړ

پیر د طریقت هم یو ساده ماشوم د حسن و

چا تر لاس نيولي پتنګان په لمبو وسپارل؟

زړه مې پسرليه الستي محکوم د حسن و

وايي چې ډېر شي نو کنډېر شي . خو شاعر په تکرار کې هم ښکلا پيدا کوي خو چې شاعر شاعر وي په تکرار کې حسن تکراروي .

درشم او که وګرځم له لارې ستا رضا منم

حکم حکم ستا دی او فرمان فرمان د تا منم

د انسان بدرنګه بدګوماني څنګه ښه بيانوي:

لحظې نه وې خچنې خو دا زه يم زه انسان

له پاکو پرښتو چې ګنهګارې جوړوم

: د پسرلي صاحب په غزلونو کې د رواني او خواږه وزن په تله هم ډېر ښکلي غزلونه شته چې ډېر ښه موسيقيت لري

ښايست هغه يو ساز دی، نغمې يې نوې ښکاري

سهار هغه سهار دی، وږمې يې نورې ښکاري

د سوي زړه تسل ته چې نوې ابلې ګورم

هغه څيرې ګريوان دی، تکمې يې نورې ښکاري

چې هر ځل دې په پته، کوچې پښتنې درشم

هغه د غره لمن وي، خيمې يې نورې ښکاري

د نياز او ناز له بزمه، به څنګه پاڅوم زړه

غوښتنې نوې نوې، پلمې يې نورې ښکاري

هر وخت چې پسرلي نه تازه غزلې اورې

فنکار هغه فنکار دی، زخمې يې نوې ښکاري

:دې ښکلیو تصویرونو ته هم لږ د زړه او ذوق په سترګو وګورئ

شپه راغله، سودا به یې زما له سره چیرې تله؟

پته واهمه وه په وحشي ځنګل کې پاته شوه

میني مې په لطف رانه واخیست کدورت د ژوند

ورو ورو د سیلاب خړه د سیند په تل کې پاته شوه

ښه یې د ناز په پلونو نه شته آیینو سره

لږ لږ که وي پاتې د پسرلي غزل کې پاته شوه

یو د شاعر کمال دا دی چې په شعر کې نوي مضامین، نوي خیالونه او فکرونه شاعرانه شي . شاعر خپل زړه راوسپړي او د خپل احساس تصور واخلي . د خپلې زماني خوږې ترخې شاعرانه کړي له هیریدو یې بچ کړي او نورو راتلونکو . زمانو ته یې د یوه ښکلي امانت په څیر پریږدي

شاعر پسرلی د نی کوځې په غزلونو کې هم ډېر ځله خپل زړه راسپړلی او هم یې د خپل احساس خبرې غزلیزې کړې دي . د ښه شاعر ځانګړنه دا هم ده چې نوې او خپلې خبرې کوي. د خپل احساس مستانه او دردمنه او په وینو لژنده کړیکه پخپله اوري او په خپل انداز یې لفظونو ته ورلیږدوي . ښه شاعر په رواج شوي روایتي انداز څه نه وایي . که زړې خبرې هم کوي، په یوه نوي ښاعرانه انداز یې کوي . د غزلونو په خوا کې که تاسي د پسرلي صاحب نظمونه هم وګورئ نو د حماسو او تراژیدۍ د موسم رنګ په کې ډېر طبیعي انځور شوی دی . زموږ د رواني تراژیدۍ او په وینو لژندې حماسې یې ډېرې هنري بیان کړې دي . په زغرده ویلی شو چې پسرلی صاحب زموږ د تراژیدۍ او په وینو لژندې . حماسې لوی او مبتکر شاعر دی

د نوي خیال نوي فکر او د شاعر د خپل جهان او خپل احساس د بیان تر څنګ یو بل شاعرانه انداز هم شته . دا انداز د څه ډول ویلو انداز دی . یعني شاعر چې څه وایي، څه ډول یې وایي . آیا هغسې اظهار هر څوک کولای شي او که تنها کیدای . شاعریې کوي . کیدای شي په دې انداز کې شاعر زړې خبرې داسې خوږې کړي چې تر نویو خبرو ښې ولګیږي خو کمال یې په دې کې وي چې ښکلې وي . شي شاعر داسې تابلو جوړه کړي چې په حال او ماضي کې بیخي نا آشنا وي . کله کله د شاعر په زړه، روح، ذهن او یا هر څه چې ورته تاسي وایئ، یوه مرموزه نغمه په ازانګو وي . کیدای شي چې شاعر دا مرموزه نغمه په یوه داسې شعر کې وغځوي چې دا شعر به د شاعر د ورځني ژوند څرګندوی نه وي . نوې خبرې به هم په کې نه وي . خو دا شعر به بیا هم خوږ لګیږي . کیدای شي دا شعر د شاعر د ماضي د مرموزو حادثو تابلو او یا د شاعر د پټو او ورکو خوبونو تعبیر وي . شاعر کله کله ساده خبره په داسې انداز وکړي چې له ډېرو نویو خبرو خوږه لګیږي . نو موږ دا ډول شاعري هم نړه شاعري بولو . کله کله شاعر خپل احساس د نورو له احساس یا د نورو احساس له خپل احساس سره غوټه کوي، د ښکلا او هنر پنځونه کوي . موږ د شاعر احساس محدود کولای نه شو . شاعر د خپلې شاعرۍ اروا او خپل ښکلي احساس په زور د تیرې . شاعر د یوې ورځې او یا رواني زماني نماینده نه دي زماني او راتلونکې زماني اوسیدونکی هم دی . کله کله شاعر په خپل ځان کې داسې نغمه بیز کیف او حالت ویني چې د همدې نغمه بیز کیف په وزرونو د ماضي او حال په غیږ کې الوتني کوي . ددا ډول الوتنو ننداره د نی په کوځه کې هم کولای شو . له دې خبرو مې مطلب دا دی چې یوازې نوې خبره یا د خپل احساس څرګندول ښه شاعري نه ده . اصلي

خبره د څرګندولو په شاعرانه انداز کې ده . شاعرانه انداز د هر مضمون پرده پوښ دی . او د چا خبره چې سنګ پارس وي نو ساده مس هم په سرو زرو بدلوي . هغه د پښتو خوږه لنډۍ رایاده شوه چې وایي:

جانان زما سنګ پارس دی

. چې ورترغاړه شم د سرو زرو به شمه

نی کوڅه" کې زه ډېر ګرځیدلی یم، ډېر ښکلي شعرونه مې په نښه کړي وو، خو پر هر یوه څه لیکل د کتابونو کار دی "د . . یو څو خواږه بیتونه یې د خپل زړه د تسلی لپاره را اخلم

د زړکو په سینو چې کړي تېرې منګولې ښځې

موسکا د ګل د شونډو له شهبازه مه پوښته

خدایه دا نړۍ څومره بدۍ په سر اخیستې ده

هر پلو چې ولاړم د وژونکو غونډ کې ولویدم

په لویه لار کې حیرانۍ تر لاس نیولی یمه

هیڅ نه پوهیږم چې راغلی او که تللی یمه

تیرو ویاړونو مې نور هیڅ هم رابښلي نه دي

وړم غاړه هسکه د تاریخ د قبر څلی یمه

کوم پټ احساس به تخنولي وي زما تلي هم

چې د ګرد باد غونډې بې ډوله ګډېدلی یمه

ما چې په ټول عمر کې خپل ځان پیژندلی نه دی

ګومان مې نه شي چې بل چا به پیژندلی یمه

دا چې پسرلیه وهل کیږمه له هر طرف نه

د ویښ ویده عالم په پښو به ورختلی یمه

یا دا خوږه بیتونه

د نیکمرغۍ لمر د هلال په کونجۍ نه خلاصیږي

ساقي راپاڅه نیغه لاره د اختر پرانیزه

زړه چې څومره سخت وي نو هغومره بې احساسه وي

نه شته د موجونو د مستیو شور په تیږو کې

پام او حوصله غواړي د ژوند پړاو کې هر قدم

لار په منډه نه شي طی کولای سپور په تیږو کې

څنګه به منکر شم پسرلیه په اعجاز د عشق

مینه ده چې باسي د شیرین انځور په تیږو کې

مینې تصور ته چې حیا هم رابللې وه

دا خو مې په خونه کې چترۍ په سر نیولې وه

څپې د بحر هم تکوي یوه له بلې سر

بشر یم منکر نه یم له بشره سر وهم

" د نی کوځه" د پښتو شاعرۍ په تیره د پښتو غزل یو ښکلی او زرین کتاب دی چې د شعر مینان به تر پیړیو خوند ترې اخلي . شاعر پسرلي د ماشومو لفظونو په غوړونو کې د هنر اذان کړی دی چې اوس یې غزلونه داسې زلمي سرودونه او داسې پیغلې ترانې دي چې زړښت نه لري . د پسرلي صاحب په عمر دې برکت وي . آمین

*posted by پیرمحمد کاروان @ 12:22 PM* 0 comments

**یکه زار**

بیا دکوم شهید په شان دیدارته مخامخ یمه
خم ته مې تکیه کړې ده یار ته مخامخ یمه
خدای مې ناست په زړه کې دی ، باران پر ګلو ځې راځي
تول ټپه – ټپه یم یکه زارته مخامخ یمه
خیال کې مې جانانه د څېړیو رنګې ونې دي

ځوکه دپستو جنکو ښار ته مخامخ یمه
خوندمې لا له سپینو خولګکیو نه اخیستی نه
شپه په ولجه ستوري وړي ، سهار ته مخامخ یمه
زړه دمهاجریم ، خو هجران راته جانان ، جانان
ستا دخمارو سترګو انصارته مخامخ یمه
روح مې لوی ګړنګ دی ، دنغمو له ازانګو نه ډک
ښایي کوم غیبي ، لوی سندر مارته مخامخ یمه
راشه او پر غاړه مې دلېچو امېل واچوه
سرمې پر اوږو راوړی دارته مخامخ یمه
* باز لرم ، سالک لرم ، دمینې ممالک لرم
دم غنیمت بویه چې نثار * ته مخامخ یمه
ووایه کاروانه موکل دکوم یو زاګ یمه ؟
تارمې له رباب سره سیتار ته مخامخ یمه
نور الحبیب نثار ، بازمحمد عابد او مصطفی سالک : ( * )

*posted by پیرمحمد کاروان @ 10:53 AM*   0 comments

## د ځاځکو په لېمو

د ځاځکو په لېمو مې سمندر لیدلی دی
په ټولو آئینو کې مې دلبر لیدلی دی
شهید مازیګری کوي شغلې لکه حسین
شفق مې سور په غشو د شمر لیدلی دی
له زړه مې چې کړي جوړه وچو شوندوته کوزه
ورځم پسې چا داسې کوزه ګر لیدلی دی؟
دا مستې مستې اوښکې چې جوپې جوپې راځي
دې پیغلو مې په سترګو کې ګودر لیدلی دی
بتګر د تخیل مې جوړه وي بت د جانان
په روح کې زما کان یې د مرمر لیدلی دی
ته پوې یې چې دا څنګه شو " کاروان " غزل غزل؟
دا نن یې ایله یو نظر خیبر لیدلی دی

*posted by پیرمحمد کاروان @ 10:52 AM*   0 comments

## ...په زړه مې ولې راوریږې

په زړه مــــــــې ولـــــې راوریږې څه باران خــــو نه یې
هسې مې درد راوېښوې زمـــــــا درمـــــان خو نه یې
د مــــــــخ په پاڼه بــــه دې څـــــــه خوږه غزله لیک وي
سپینه کـــتابه یـــــادوم دې دومره ګــــــــران خو نه یې
د خیال هُد هُد دې راته ډېر ډېر پـــیغامـــــــونه راوړي

دا مـــې خـطا وه چـــې ويل مـــې سليمان خو نه يې
ستـــا د ستم د انــتــها به درتـــه څـــــــه وايـــمـه
د كـــــوم ظـــالم مـذهـب پيرو يې مسلمان خو نه يې
مـــــا به بې وخـــته لېونى كــــړې په اغـــزو به ګرځم
غېږ به رانه كـــــړې ښكليه باغـــــه بيابان خو نه يې
د ژوندد وچ ساحل په مخ مې لمدې شونډې نه ږدې
شـنه سـمـندره زه دې څـــــه كـړمه توپان خو نه يـــې
د نور پـه غشو مــــې له هسک نه په لېمو كې ولـــې
نه راځـــې ستـــورى د اسمان شوې مهربان خو نه يې
ښكليه ســـالار كـــــه مې د عشق د منزلونو نه كـړې
بيا راته وايه چې درواغ وايې" كـــــاروان" خـو نه يې

*posted by پيرمحمد كاروان @ 10:51 AM* 1 comments

## شاعرانه ارواوې

زما او ستا شاعرانه ارواوې
لكه همځولي ګاونډي ماشومان
له يو بل پټ شي پټپټانى كوي
د خيال په رنګو كنډوالو كې ګرځي
زما او ستا شاعرانه ارواوې
لكه دوې خويندې ښاپيرۍ په افسانو كې ګرځي
لكه دوې سترګې اوښكې
سترګو ته نه راځي په زړو كې اوسي
لكه دوې غبرګې او خوږې سندرې
د زير و بم په جزيرو كې ګرځي
زما او ستا شاعرانه ارواوې
لكه درانه پښتانه
په غم ښادۍ كې په جومات او په حجرو كې ګرځي
په مركو او په جرګو كې ګرځي
لكه مين او لېوني شاعران
په پښتني مشاعرو كې ګرځي
لكه د خداى د لارې دوه شهيدان
په ښكليو - ښكليو جنتو كې ګرځي
زما او ستا شاعرانه ارواوې
لكه جوړه پتنګان
د زيارتونو د ډيوو په سرو لمبو كې ګرځي
لكه جوړه شرابيان
په ميكدو كې ګرځي
دومره د يو بل سره مينه كوي
چې آن د يو بل په خوبو كې ګرځي

خو زه او ته له يو بل لري ګرځو
لکه د يوې پېرۍ او بلې پېرۍ دوه شاعران
لکه د لر او بر په يو او بل مين شاعران
چې د نغمو په ګوتو خداى يادوي
خو په تسپو نه، د بېلتون د ځنځيرو په کړۍ

*posted by پیرمحمد کاروان @* [*10:50 AM*]() [0 comments]()

## راشه د رحمت بارانه...

راشه د رحمت بارانه ښار اخستى اور دى
ژوند لکه د کلي د چنار اخستى اور دى
راشئ زما اوښکي ورله يوسئ بلبلانو
سوزي درنه ښکلي لاله زار اخستى اور دى
نه يي د چا لاس لکه امېل د غاړې تاو شو
غاړه کي يي خپل د غاړې هار اخستى اور دى
وچي شونډې ګرځئ بدبختانو ميخوارانو
اوښکي د انګور وسوې انار اخستى اور دى
لري شه لمنه به دې وسوزي طبيبه
پرې يې ږده چې څه کيږي پرهار اخستى اور دى
ما وې ګلابي جامونه راکړه راته وې يې
وار وکړه تلوار مکړه ستا وار اخستى اور دى
سوې د "کاروان" سندرې چا په زمزمه کړې
ګوتي د مطرب وسوې شاتار اخستى اور دى

*posted by پیرمحمد کاروان @* [*10:48 AM*]() [0 comments]()

## راشه چي نغمي کړو...

راشه چي نغمي کړو سره ګډې ربابونه شو
راشه سره ولولو د شعر کتابونه شو
راشه چي بانه پر بنو کيږدو سترګي سترګي شو
راشه دا ځنګړې کړو خروبي دريابونه شو
راشه چي لاسونه د شغلو کړود يو بل نه تاو
راشه ځو جوړه جوړه آسمان ته شهابونه شو
راشه د دعا په شونډو ښکل د يزدان شونډې کړو
راشه چي سجدې شو ښکلي ښکلي ثوابونه شو
راشه پټ پټانى شو او يو بل سره بيامومو
راشه سوال د ميني شو د ميني ځوابونه شو
راشه چي د روح پر للمو وکړو د نغمو باران
راشه چي يو بل ته مطربان شو مضرابونه شو

راشه د (رحمان) پر غزلونو تندي ماتي کړو
راشه هسي نه چي درواغجن شو سرابونه شو
راشه چي "کاروان" مو د خُمار له خوبه پاڅوو
راشه چي يو بل ته هم ساقي هم شرابونه شو

*posted by پیرمحمد کاروان @ 10:47 AM* 0 comments

## يو ځو ښکلي رندان به ...

يو ځو ښکلي رندان به ميخاني ته راولو
لښکر ګلان به للمي زماني ته راولو
ما زړه ستا د وعدو د لاسه شين راوړی دی
ستا سپينه خولګکی به بهاني ته راولو
شپه راغله ځئ وزري د رڼا وروراغوندو
ډيوه به وزر سوي پرواني ته راولو
ياديږي مي نن بيا د نيزه بازو نجونو جنګ
د چا ملالي سترګي ياراني ته راولو
ديوان به راګوزار کړو د تخت له سليمان
رښتيني ښاپيری به افساني ته راولو
جنديږ د سخي جان به مي جانان ورپوي
سرتيري ملنګان به نذراني ته راولو
چي پري کړي د مغُلو د بتانو کپری
پښتون د ازر زوی به بتخاني ته راولو
د غرونو، د ځنګلونو دی ګډا ته شوی زړه
کاروان" به يوې مستي تراني ته راولو"

*posted by پیرمحمد کاروان @ 10:46 AM* 0 comments

## د غرونو خلک يو...

د غـــــــرونو خلک يو کارونه د بازار نه کوو
شډل پډل کــــرځو هيڅ ډول او سينګار نه کوو

د خدای مارغان راځي نغمي د ملکوت غږوي
مطرب ته اړ نه يو او ذکـــــــــــر د ستار نه کوو

د ســــر قاتل ته هم ســـــلام کوو سلام يـــي اخلو
ولو يي مخـــامخ له شانه پري ګوزار نه کوو

په ستن کي تار شو اچلوی د سپـــــوږمی په رڼا
څراغ کي تيل نه سيزو دا د تـاوان کار نه کوو

له پړانګ څرمنه اړوو چې لنګې غواوې داړي
پر ڤانګې ناستې مرغکۍ د کـــانې وار نه کوو

*posted by پیرمحمد کاروان @ 10:45 AM*   0 comments

## د بدرنګۍ له سیند

د بدرنګۍ له سیند اوباسو د سندرو بېړۍ
الله لاهو مه کړې د ښکلو مساپرو بېړۍ
د څو کیرډیو او یو څو دانو خورما په بدل
لاړې عربو ته د لمنځو، د ښترو بېړۍ
موږ ته رادرومې الوتکې له مارانو ډکې
له موږ نه درومي د نرګسو نیلوفرو بېړۍ
د آشنا سترګې شوې د تورو ګربتانو ځالې
زموږ لېمې د سپینو اوښکو د کوترو بېړۍ
موږ د تیارو د جزیرو په غېږ کې ژوند تېروو
له موږ نه وړې ده رڼا د ستمګرو بېړۍ
موږ ته زخمونه د ځیګر د سترګو اوښکې پاتې
پاریس ته ځي د زمرودو د لاجورو بېړۍ
موږ د شهیدي خور ټکرۍ کړ د جونګړې پرده
لوټمارو بار دي د رخامو د مرمرو بېړۍ
په هر غزل کې يې رنګونه جادوګر جادوګر
کاروان" ولجه کړله د خیال د جادوګرو بېړۍ"

*posted by پیرمحمد کاروان @ 10:44 AM*   0 comments

## چېرته يې هینداري

چـــېـــرته یـــې هنداري بې تصـــویره یم
راشه چــــــې بې خـــوبه بې تعــــبیره یم
راشه چې تناکــــې پېښې دې ښکل کـړمه
ورکــــــه سبا سترۍ لــــــــــه شوګیره یم
درد یــــــــم په لفظونو کــــې مې ونغـــاړه
لږ خو مــــــې بیان کړه بـــې تفسـیره یــــم
شمس مې شه سیقل مې کړه شاعر مې کړه
مست مې کړه محبوب مې شه بې پیره یم
زړه مــــې ورور د للـــمې د ګلــــــــونو دی
ورک د بـــارانونو لــــــــه بهـــیره یــــــــم
خــــــــدایه کــــــه پښتو راسره ووایــــــې
جــــــــــار دې له منکر او لــــــه نکیره یم

چـــېرته د سـندرو "کـــــاروان " واړوم؟
زه راغـــلی نن لـــه بـــــم او زيـــــــره يم

*posted by پیرمحمد کاروان* @ [10:43 AM](#) [0 comments](#)

## شعر

چي ورته خولي شوي داصيلو مرغلرو اوبه
خپلو خبرو ته دي ورکړې د سندرو اوبه
ستا د تصوير تنکيو پښو ته شيشي مه شه لشي
په کاڼو چېري ماتي مه شه د جوهرواوبه
زما د زړه د ميني زور پاس په لېمو کي ګوره
په بره خېژي اشنا تل د زوررورو اوبه
خدايه ! باران د ميني راوله پر وچو للمو
غواړي ګلان لکه د تږو مساپرواوبه
ګودري شاړي منګي مات دي په کي ځاځکی نه شته
ستا د لاسونو د جوړه شپينو کوترو اوبه
پرګلو ځاځي کوم د ميني پيغمبر ژړلي ؟
د شعر د شاتو د مچيو له وزرو اوبه
کله چي ليکي خپل صنم ته صوفيانه غزله
قلم ته واچوي کاروان د نيلوفر اوبه

*posted by پیرمحمد کاروان* @ [10:40 AM](#) [0 comments](#)

## د لوی خدای په نامه

شاعران يو په نغمو يادوو خدای
ښکلي ګورو ، په لېمو يادوو خدای
خدای بلد کړو د توبو په ماتولو
غرېب کوو له پيمانو يادوو خدای
شېخ د کاڼو په تسپو يادوي خدای
موږ د اوښکو په تسپو يادوو خدای
د ژوندون په ګوتو برګی تسپي وايو
هم په ورځو هم په شپو يادوو خدای
يم هيرجن چي هير مي نه شي راته خانده
ستا له شونډو اننګو يادوو خدای
ايا تونه دي په سترګو کي موسکي دي
ستا له سترګو پښتنو يادوو خدای
موږ کاروان د لېونو ازادي غواړو
په کړی د زولنو يادوو خدای

په د ښتو کي مو خيمي دي زه کــوچی يــم
پربيد يا مي ورځي شپې دي زه کوچی يــم
لـــــوي څښتنه فضل غواړم
مېنه نستـــه زه تـــل ژاړم
دړي وړي مي چـــارې دي زه کوچۍ يــم
رحم وکـــړې چي رنځـور يـم
خپلي خـــاوري کي منصور يم
د بــا بـــا ميني سپيرې دي زه کوچی يـم
پښتون زما سکنی ورور دی
لر تر بره زمـــا کــور دی
ښکلي ښکلي يې شيـــلي دي زه کوچی يم
ابا سين تـــــه زه کــوچيږم
دامـــو ســره اوسيـــــــږم
پســـرلي کي مي ميـــلې دي زه کوچی يم
نه يـــوازي به خـــــواريږم
هـــم پرتا باندي کـــــړيږم
ترستم لانـــدي مي شپې دي زه کوچی يــم
نـن چي زه په اور سوځيږم
لابه څومره نـــــوروريتيږم
شاوخــــوا مي غـــلبلې دي زه کوچی يم
د کـــوشان په د بد بـــوکي
د پښتـــوپـــه سلســـلو کي
هره خـــوا زما ريــښې دي زه کوچی يــم
دهــــندوکش دغره سرونه
د پـــــامير غرونه د ښتونه
پـلني پـلني مي خيمې دي زه کـــوچی يــم

کوچ په شا و هـــم مزلونه
گــزومه ټــول واټـــــونه
زما د تـــوروازانگي دي زه کوچی یـــم
گوره واوره پښتون وروره
زه اوته د پښتـــــون کوره
راپسي ډیـــــري گیلي دي زه کوچی یـم
راسه لاس په لاس کي ورکړو
د یـــو والي لار مو سپر کړو
هره خواتـــوري تیـارۍ دي زه کوچی یم
کـــله گرځم په کا بـــل کي
شپې کـــــومه په زابل کي
د پــــــلرو مي هد یرۍ دي زه کوچی یم
ږغ راپورته د سورۍ کړئ
جوړ هـــمت د ابدالي کړئ
د میرویس موښي جرگي دي زه کوچی یم
پیشا ور می د کـــور غیږه
کنــــدهار مي د مور غیږه
پیغـلي نجوني زرغـوني دي زه کوچی یم
تـــور ما تم د مغـــلیا نو
جوړ قانون د ځنگـــلیا نو
مخ ته نــــوي دسیسي دي زو کوچی یم
څوک رمې راڅخه غـلاکړي
نورکښتونه موتـــالا کـــړي
دهـرچا پرما حملي دي زه کـــوچی یـم
دعــــا وکـــړی مومنـــا نو
د قـــومونـــو عا لما نـــو

د وحـــــد ت ښې نتیجې دي زه کوچی یم

په هرځای کي جوړي شخړي

ټــولي لاري دی ټـــــــړلي

د د ښمن راتــه پـــــلمې دي زه کوچی یم

راځی مـــلا وتـــــړو خپله

سرموجارکړویـــوتـــربله

په یـو والي کي فا یـدې دي زه کوچی یــم

خپل منځي د یوال به وران کړو

ټـــول به یو کـــورګئ ودان کړو

زړې د کرښـــومفکورې د ي زه کوچی یم

اما نزیه زړه به ښا د کــــړو

د پښتون کـور به ابـــاد کړو

د ولـــس دا فـــــیصلې دي زه کوچی یــم

محمد اسحق امانزی

ناروي ۱۹ دسمبر